# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com          afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |



هارون خیل شعشعی


۲۸ می ۲۰۱۱

# امریکايي چونۍاواستعماري نخشې

## شپږمه برخه

**لويه جرگه : امريکايي چونييوته د« مشروعيت » ورکولو نمايشي اوفرمايشي غونډه**

لکه څنگه چې په تېرو مباحثو کې هم يادونه وسوه، زموږ د ځينو غرب مآبه ليکوالو او شننونکو د ناسمو ادعاوو پر خلاف، په افغانستان کې د امريکايي چونييو جوړول، په هيڅ وجه د ۲۰۱۴ع کال خبري نه دي . زموږ سترگه ورو او باخبره هيوادوالو ته په بشپړه توگه ځرگنده ده، چې د دې ډول استعماري چونييو د جوړولو کار له تېرو لسو کالو ياني د امريکايي يرغل له همغي اولي ورځې څخه پيل سوئ؛ او تر اوسه پوري په پوره چټکی سره روان دئ . له شينډنډ څخه تر کونړو، له بلخ اوکندوز څخه تر خوست او پکتتکا پوري گرده افغانستان د امريکايانو او نورو ايتلافي پوځو په لويو او کوچنييو لښکرکوټو ډک دئ . له دې روښانه حقيقت څخه هيڅوک سترگي نسي پټولای .

هغه څه چې تر اوسه نه دي سوي، دې کرغېړنو استعماري چونييو ته يوازي د « رسميت » او« مشروعيت » ورکولو خبره ده اوبس . البته، د حامدکرزي په مشرى مزدور حکومت، د عبدالله عبدالله په مشرى مزدور اپوزيسيون او د ډول ډول جنگي ډلو ټپلو له استازو، جاسوسانو او ټپل سوو مزدورانو څخه ډک پارلمان او ولايتي جرگي هم د دغه راز تش په نامه « رسميت » او « مشروعيت » ورکولو دپاره تر ټولو ښه او مناسبه موقع گڼله کيږي . امريکايانو د دې طلايي چانس د تر لاسه کولو له پاره، په تېرو لسو کالو کي خپل زرگونه پوځيان مرگ او درد ته ورکړه؛ ميليارډونه ډالر يې په اور کي واچول؛ په خپل هيوادکي دننه او دباندي يې د ميليونو سوله دوسته اولسو، مخالفت او دوښمنی ته غاړه کښېښووه .

همدي واقعيتو ته په کتو سره، امريکايانو دا غوره وبلله، چې خپلو دايمي چونييو ته د چا خبره « رسميت » او « مشروعيت » موندلو په خاطر د« لويي جرگي » د استازو تصويب تر لاسه کړي؛ که څه هم د اوسني ټپل سوي

اساسي قانون د نيوييمي (۹۰) مادې د پينځمي(۵) فقرې له حُکم سره سم، د بين المللي معاهدو او تړونو تصديق يا له هغو سره د افغانستان د يو ځاى کېدو پاى ته رسول او فسخه کول، د ولسي جرگې له صلاحيتو څخه گڼل کيږي.

امريکايي طراحان د لويي جرگې په جوړولو سره دوه لوى هدفونه په پام کې لري :

اول دا چې د ولسي جرگې د تصويب او ملاتړ په تر لاسه کولو سره، غواړي په افغانستان، سيمه او گرده نړۍ کې خپلو دايمي چونيو ته د« مشروعيت » او« قانونيت » دعوه وکړي .

دوهم دا چې په دې مهمه ملي او وطني مسأله کې دکرزي د مزدور حکومت او تش په نامه پارلمان اوږې سپکې کړي؛ ځکه دوى ته ښه مالومه ده، چې د کرزي د حکومت يا پارلمان له خوا به د دې مسألې تأييد او تصويب، په دردېدلي او خبمېدلي افغان ملت کې د مخالفت او دوښمنى لا نوري ځپې را وپاروي . له همدې سَوَبه (سببه)کرزى له افغاني او بين المللي مطبوعاتو سره په خپلو مرکو او کنفرانسو کې داسي ښيي، چې گوندي ( گواکي) دى هم د خپلواکو، سرلوړو او باغروره افغانانو په څېر، په زړه کې د امريکا دايمي چونيو ته په اجازه ورکولو خوښ نه دئ . څه موده مخکي يې له افغاني ژورناليستانو سره په يوه مرکه کې ادعا وکړه، چې دامريکاپښني او لاسونه يې ورتړلي دي؛ اوداسي شرايط يې پر اېښي دي، چې ټول د افغان دولت او اولس پرگټو راڅرخي . ده په ټينگار سره ډاډ څرگند کړ، چې د دولت له خوابه هيڅکله داسي هيڅ کار ونه سي، چې دملت او اولس په گټه نه يې . . .

خو پوه او هوښيار هيوادوال ټول گوري، چې دکرزي گوډاگى حکومت له امريکايي اشغالگرو سره په هيڅ برخه کې برابر يا مساوي حقوقي دريځ نه لري . د خلگو په ساده ژبه : چيري نوکر، چيري بادار . هر څوک پوهيږي، چې اشغالگرامريکايان او نورو ايتلافي دولتونه له تېرو لسوکالو راهيسي دکرزي د اوردو، پوليسو او استخباراتو په گډون، ټولو دولتي کارکوونکو ته تنخاوي ورکيي . په دې اساس نو د هغو د لاسو او پښو تړلو ادعا هم له يوې بې خونده ټوکي پرته، بله مانا نه لري . امريکايان او پياوړي اوروپايي دولتونه خو ها خوا پرېږدئ، ايا په تورو کڅوړوکي د ايران د اخوندي رژيم د حق السکوت پيسو، کرزي او د هغه مزدور حکومت ته د سياسي خپلواکې په نامه څه پريښي دي؟ !

کله چې د فارسيزم او شيعيزم مکارو ټيکه دارانو د منلو بين المللي موازينو پر خلاف، زموږ مظلوم هيوادوال جوپه جوپه په دار وځړول او لا تر اوسه له دې جنايت څخه لاس نه اخلي،ايا کرزي او د هغه مزدور حکومت د اعتراض څه ږغ پورته کړ؟ !

کله چې همدې پراختيا غوښتونکو اخوندانو زموږ مهاجر افغانان د انسانيت او اسلاميت د ټولو اصولو پر خلاف له خپل هيواده وشړل، ايا د کرزي مزدوري او فاسدي اداري څه احتجاج وکړ؟ !

دا خبره هم د هيچا هېره نه ده، چې کرزي او د هغه ملي ضد حکومت په ايران کې د افغاني سوداگرو د ځنډول سوو ټانکرو د خوشي کېدو دپاره څه توره وکړه؟!

د دې خبري له حقانيت څخه هم هيڅوک نټه نسي کولاى، چې که د زړورو افغانانو زوروري او پرله پسې مظاهرې نه واى، مزدورکرزي او د هغه خاينو ملگرو به د ايراني حاکمانو د اندېښنې او خرخښې له بيري د يوه تشريفاتي هيأت د لېږلو جرأت هم نه واى کړى . داسي مثالونه په پيخر دي، چې د کرزي او ملگرو پر شرموونکو باټو او پوچو ادعاوو د بطلان کرښه باسي .

له دې امله افغانان اوس د کرزي په دې نمايشي او زرگري مانورو هيڅکله نه غوليږي . په تېرو لسو کالوکي يې دهغه ددغه راز زرگري جنگو او غوولونکو ننداړو خورا ډېري نموني و ليدلي . د تېرو لسوکالو ريکارډ په چپه (چوپه) خوله گويا دئ . امريکايي اشغالگران د دغه راز غولوونکو تاکتيکو په کارولو سره، په واقعيت کې هلي

ځلي کيي،چي بې مزدوراو منفورکرزي ته د « ملي » شخصيت په ورکولو سره، په افغاني او بين المللي ټولنه کي باور او پرستيژ ومومي .

خير، دکرزي لاف وګزاف به پر خپل ځای پرېږدو، د امريکايانو کلونه کلونه مخکي جوړي سوي چوني اوس د چا خبره بوازي د« رسميت » او« مشروعيت » دپاره د لويي جرګي نمايشي ټاپي ته انتظار باسي . زه پوره باور لرم، چي د دې درواغجني او تقلبي ټاپې د اخيستلو دپاره هم له پخوا څخه پراخ او هر اړخيز مقدمات پيل سوي دي. دې ناوړه حالت زموږ زړور او خپلواک خلګ د خپل اوږده تاريخ له خورا خطرناک او حتا فاجعه زېږونکي ازماينت سره مخامخ کړي دي . . .

مخکي تر دې چي د لويي جرګي له خوا د امريکايي چونييو د تصويب يا ترديد په اړه خبري نوري هم اوږدې کو، بې ګټي نه ګڼم چي تر يوه بېل سرليک لاندي، زموږ په ګډ تاريخي کور ( ګران افغانستان) کي د جرګو و ارزښتناک دود ته يوه لنډه کتنه وکو؛ او دا خبري ځانته مالومي کړو، چي د جرګو او مرکو دود له څه وخته باب سوی؛ په دغه راز قامي يا ملي غونډوکي څه ډول کسانو برخه اخيسته؛ او د خپلو ملي ګټو د ساتني دپاره يې څه ډول پرېکړي کولي . زموږ د پلرو او نيکو دا وياړلئ دود او دستور به يو پلا بيا د هيواد په دې حساسو تاريخي شېبو کي زموږ سرلوړو، خپلواکو او مېړنيو وطندارانو ته د ملي او وطني ګټو د ساتني ستر رسالت او مسووليت ور په يادکړي .

## په افغانستان کي د جرګو او مرکو تاريخي دود

تاريخ ښيي، چي زموږ لرغوني مېنه د آريايانو له زماني څخه د جرګو او مرکو هيواد دئ . د آريايي آثارو په استناد، زموږ نيکه ګانو د خپلو کليوالي، قامي او ملي ستونزو د ليري کولو دپاره د« سبها» او « سميتي » په نامه دوديزي جرګي درلودې( حبيبي، تاريخ مختصر افغانستان ۱۰) . د مؤرخانو او محققانو د څېړني له مخي، « سبها» د عامو خلګو جرګه وه، چي په کلو او بانډوکي به جوړېده؛ خو « سميتي » داسي جرګه وه، چي د قام مشرانو، مخورو او شتمنو بې غړيتوب لاره . په دې توګه « سبها » له نننی اولسي/ ولسي جرګي او « سميتي » له « څلــوېښتي »، « مشرانو جرګي » يا « سنا» سره ورته والی درلــود . په هندوستان کـــي تر اوسه د « سبهــا» آريايي کليمه د لوک سبها(Lok Sabha) يا ولسي جرګــي( شورا) او راجيا سبها(Rajya Sabha) ياد ايــــالاتو

د جرګي (شورا) په ټکو کي ژوندی پاته ده؛ او د دې خبري مانا دا ده، چي موږ له هنديانو سره په تاريخي او فرهنګي ميراثو کي، ګډي ريښي لرو.

جرګه او مرکه زموږ په کورني، کليوالي، قبيله يي او ملي ژوندکي ډېر لوړ او ارزښتناک حقوقي - سياسي ځای لري. همدا اوس موږ ټول افغانان د خپلو کورنييو شخړو او لانجو د حلولو دپاره د ځينو مُصلح او خير غوښتونکو خپلوانو، دوستانو او اشنايانو په ګډون کورنۍ جرګي جوړوو. په هرکلي کي د هغه کلي د بېلابېلو مشکلاتو او پېچومو د حلولو دپاره دکلي د ديني عالمانو، مشرانو او مخورو په ګډون، کليوالي يا محلي جرګي جوړيږي . د دوو يا څو قبيلو/ قومو تر منځ بېلابېلي شخړي او لانجي هم تل د جرګو او مرکو له لاري حل کيږي، چي په هغو کي د ښکېلو اړخوپوهان، عالمان، قومي مشران، سپين ږيري او د رسوخ خاوندان برخه اخلي . لويه جرګه، لکه څنګه چي له نامه يي ښکاري، د افغانانو د لويو ملي - وطني مسألو د خلاصون او پرېکون مهمه مرجع؛ او د خلګو د ارادو او غوښتنو څرګندوی ده .

د دې دپاره چې د ملي جرگو په ارزښتناک رول او سترو ملي پرېکړو ښه سر خلاص کړو، بده نه ده چې دلته زموږ په معاصر تاريخ کې د ځينو مهمو ملي  او قامي جرگو، لنده يادونه وکو.  دا لنډ بحث په کندهار کې د صفوي استعمارگرانو پر ضد، زموږ د زړورو او غيرتمنو نيکونو د خپلواکۍ بخښوونکي غورځنگ له لومړيو ورځو څخه پيل کوو. په کندهارکي د هوتکي دورې بېلابېل مؤرخان ليکي : «کله چې حاجي ميرويس خان هوتک ( ۱۱۱۹- ۱۱۲۷ هـ ق) د بيت الله شريفې تر زيارت او له عربي علماوو څخه د گرگين او ملگرو د وژنې تر فتوا اخيستلو وروسته کندهار ته ستون سو، نو يې د هغه  ښار د لوېديځ په شپږ ميلۍ کې د ارغنداو د رود ( سيند) پر غاړه د«کوکران » په کلي کې د خلگو د مخه ورو يوه جرگه وروبلله . په دې جرگه کې د اصفهان د دربار د سياسي حالاتو په اړه اوږدې او هر اړخيزې خبرې وسوې؛ او د جرگې برخه والو ته د  صفويانو د وحشي حُکمران - گرگين د وژلو په اړه د عربستان د عالمانو فتوا، ور ښکاره سوه ( حبيبی، تاريخ مختصر افغانستان ۷۳) .

دوهمه جرگه  د کندهار د ښار د ختيځ لوري په شل ميلۍ کې د « مانجې » په سيمه کې جوړه سوه؛ او د کندهار ښار د هغې زماني ځينو متنفذو او نومياليو شخصيتو لکه  سيدال خان ناصر، بابوجان بابي، بهادر خان، پير محمد مياجي هوتک، يوسف خان هوتک، عزيز خان نورزي، گل خان بابړ، نور برېڅ، نصرو خان الکوزي، د ميرويس خان ورور(يحيا خان هوتک)، د يحيا خان زوی ( محمد خان) او يونس خان کاکړ گډون پکښې کړی ؤ. په دې ستره او ارزښتناکه قامي جرگه کې د افغانستان د خپلواکۍ وثيقه لاسليک سوه؛ او په قرآن عظيم الشان لوړه وسوه ( حبيبی، تاريخ مختصر افغانستان ۷۳)  . تر دې جرگې وروسته د  فراه، سيستان او کندهار ټولو خلگو، چې په هغو کې تاجک، هزاره، پښتانه او بلوڅ  شامل وه، ميرويس خان د خپل آزادی غوښتونکي مشر په توگه و پېژندئ ( غبار ۳۱۹) .

دريمه جرگه هغه وخت جوړه سوه، چې زموږ ننگياليو نيکونو د لوی ملي او ولسي مشر( ميرويس خان هوتک) په مشرۍ په کندهار کې د صفوي استعمار کمبله ټوله کړې وه؛ خو د مغولي او صفوي امپراطوريو د گډو دسيسواو لمسوونو په سَوَب (سبب) لا د هيواد خپلواکي او ملي واکمني له خطرو او گواښو څخه نه وه ژغورل سوې . ميرويس خان هوتک په دې جرگه کې، د خلگو ريښتينو استازو ته په خپله وينا کې وويل : « که زما سره ودرېږئ، د خپلواکۍ بيرغ  به تل تر تله رپانده ساتلئ يې(وي)؛ او د پردو د مريتوب طوق به مو هيڅکله غاړې ته نه لوېږي . زموږ له هغو کسانو سره هيڅ راشه درشه اودوستي نسته، چې د پردو و اسارت او غلامی ته غاړه ايږدي  . . .  د جرگې برخه والو، د خپل ملي مشر د وينا تر اروېدو وروسته، په ټينگار سره ژمنه وکړه، چې د ژوند تر وورستيو سلگيو پورې به د خپلواکۍ او ملي واکمنۍ د دفاع  له مورچل څخه پر شا نسي . » ( حبيبی، تاريخ مختصر افغانستان ۷۵) .

د ډېرو خپلو او پردو مؤرخينو له روايت سره سم د زړور او مُدبر مشر( ميرويس خان هوتک) تر مړيني وروسته د هغه ورور ( عبدالعزيز خان) د چارو واگې په لاس کې واخيستې؛ او سمدستي يې د خلگو يوه پراخه جرگه ور بلله .  په خواشينۍ سره عبدالعزيز د خپل سرلوړي او باغروره ورور په څېر د لوړ همت او پياوړی هوډ څښتن نه ؤ، نو ځکه يې له جرگې څخه د صفويانو د اطاعت غوښتنه وکړه؛ خو له نېکه مرغه د جرگې گډون کوونکو د هغه دا ناوړه غوښتنه و نه منله . سره له دې هم عبدالعزيز د اصفهان در بار ته سفير ولېږه ؛ او دد غو درو شرطو په رعايت سره يې، صفوي دربار ته د اطاعت غاړه کښېښووله :

۱- د هغو ماليآتو بخښل، چې په کندهار کې د گُرگين د واکمنۍ پر مهال اخيستل کېده.

۲- کندهار ته د صفوي لښکرو د راتګ مخنيوی .
۳- د عبدالعزيز په زامنو او لمسيانوکي د پاچهی د دوام په رسميت پيژندل .
د ډېروکورنيیو او بهرنيیو مؤرخينو په حواله، کله چي افغانان د عبدالعزيز  په دې شوم او شرمناک دريځ خبر سوه،  څلوېښتو زرو کسانو د ميرويس خان له زوی ( محمود) سره لاس يوکړ؛ او د عبدالعزيز په وژولو يې د خپلواکی او ملي واکمنی جنډه رپانده وساتله .  البته، په کندهار کي د شاه حسين هوتک د ربار منشي او ديټي خزاني ليکوال ( محمد هوتک) په دې اړه جلا نظر وړاندي کړی دئ، چي لوستونکي يې په « پټه خزانه » او « تاريخ مختصر افغانستان » کي تفصيل لوستلای سي ( حبيبی، تاريخ مختصر افغانستان ۷۹ - ۸۰ ؛ هوتک ۱۰۹).
د هوتکو تر څه باندي دېرش کلني وياړلي دورې وروسته، زموږ په ملي تاريخ کي بله لويه او مهمه جرګه د کندهار د« شير سُرخ » تاريخي جرګه ده، چي په ( ۱۱۶۰هـ ق/ ۱۷۴۷ع )کال کي جوړه سوه . په دې ارزښتناکه جرګه کي، چي د نادر افشار تر وژني وروسته د افغانستان د ملي مشر د ټاکلو دپاره بلل سوې وه، د ځينو قبيلو مشران لکه  د غلجو مشر (نور محمد مير افغان)، د پوپلزو مشر (محبت خان)، د ساګزو مشر ( موسا خان)، د نورزو مشر ( نصرالله خان)، د بارکزو مشر ( جمال خان) او د سدوزو مشر( احمدخان ابدالي) برخه اخيستي وه .
جرګې اته غونډې وکړې؛ خو برخه وال د يوه ملي مشر د ټاکلو پر مسأله روغي جوړې ته ونه رسېده؛ ځيني په يوه دليل، ځيني په بل دليل له پامه ولوېده. د جرګې په نهمه غونډه کي ګرده په دې سلا سوه، چي پينځه ويشت کلن احمد خان ابدالی د هغه د زړورتيا، پوهې، تجربې، زغم او نيک شخصيت له مخې، د خپل ملي مشر په توګه وټاکي . په دې وخت کي د نامتو صوفي - استاد لايخوار کابلي زوی -  صابر شاه ملنګ، چي د جرګې په ګډون کوونکو کي يې د يوه تصوفي او روحاني شخصيت په توګه خاص مقام لاره؛ او هغه مهال د « شير سُرخ » په مزار کي اوسېده، له نيژدې پټي څخه د غنمو يو وړی پرې کړ؛ او د احمد خان په بګړی کي يې د پاچهي تاج په بڼه وتومبه . په دې ډول د هيواد د ملي مشر د ټاکلو ستونزه ليري سوه ( حبيبی، تاريخ مختصر افغانستان ۸۷؛ غبار ۳۵۵). د « شير سُرخ » د جغرافيايي موقعيت او تاريخي ارزښت په باره کي د نامتو مؤرخ - اروابناد استاد احمد علي کهزاد، مقاله دلته کتلای سئ :
http://afgazad.com/Tarixi/۱۲۱۸۰۸-A.A._Kohzad_Shair_Surkh_wa_Pir_Sabz[۱].pdf
د « شير سُرخ » تر جرګې وروسته نورو واکمنو نظامو هم تل د هيواد د سياسي او ملي مسألو د حلولو دپاره، لويو جرګو ته مخه کړې ده . د امير امان الله خان (۱۲۹۸ش/ ۱۹۱۹ع - ۱۳۰۸ش/ ۱۹۲۹ع) په زمانه کي هم دوې لويي جرګې جوړې سوې، چي يوه يې په ۱۹۲۴ع کال او بله يې په ۱۹۲۸ع کال کي وه .  دلته د دې دواړو لويو جرګو د يوه ګډون کوونکي ( عبدالرحمان خان لودين کبريت) د هغه بيان يوه برخه راوړم، چي د امان الله خان د تلواري او بې سنجشه اصلاحاتو په وړاندي يې د اعتراض په بڼه وړاندي کړی دئ؛ او د افغانستان ټولو سياست والو ته د عبرت  لوی درس ګڼل کيږي .  د ملي مبارز او ريښتيني روښانفکر-  عبدالرحمان لودين په وينا کي د عبرت لوی او ارزښتناک درس دا دئ،چي د خلګو ريښتيني استازي بايد د ملت د لوړو ګټود ساتني دپاره هيڅکله له حقيقت ويلو څخه ډډه و نه کړي؛ په قامي او ملي جرګو کي همېشه هغه څه و وايي، چي د خلګو او وطن په ګټه يې، نه د مزدورو واکمنانو او پردو بادارانو په ګټه.
د هيواد نوميالی مؤرخ او نه ستړي کېدونکي مبارز - اروابناد مير غلام محمد غبار( ۱۲۷۶- ۱۳۵۶ هـ ش) په « افغانستان در مسير تاريخ » او لوی استاد - اروابناد علامه عبدالحي حبيبي ( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰م - ۱۳۶۳ ش/

۱۹۸۴م ) په « جنبش مشروطیت در افغنستان » کي راوړي دي : کله چي امیر امان الله خان د ۱۳۰۷ هـ ش/ ۱۹۲۸ع کال د میزان پر پینځلسمه په ستوري مانی کي دانقلابي پاچا په نامه خپل افراطي اصلاحات اعلان کړه، عبدالرحمان لودین یې په جواب کي و ویل : « ټولواک[ امان الله خان ] ځان انقلابي پاچا معرفي کړ، که داسي یې نو د دولت په دستگاه کي هم باید انقلاب و مني . لس کاله کیږي، چي ټولواک په خپله د صدارت دنده پر غاړه اخیستي ده؛ خو انقلاب ، د صدراعظم په توگه د داسی چا د ټاکلو غوښتنه کیي، چي خلگ یې د کارونو پوښتنه او گرویږنه وکړای سي (غبار ۸۱۳ ؛ حبیبی، جنبش مشروطیت در افغنستان ۱۹۱).

په همدې لویه جرگه کي له خلگو څخه د ښځو د مخ لڅي په اړه هم پوښتنه وسوه . ملکه ثریا هم په لڅ مخ د غونډي په تالار کي ناسته وه . ټولو برخه والو د ښځو لڅ مخي ته د تأیید سرونه وښورول؛ مگر دووکسانو - د کابل د گمرک رییس - عبدالرحمان خان لودین او د سوداگرۍ وزیر - عبدالهادي خان داوي ونه منله . دې دواړو کسانو و ویل : موږ د ښځو د مخ لڅي له لومړنیو پلویانو څخه یو؛ خو نه په دې شېبو کي، چي هره خوا د انگرېزانو دسیسي اوتوطیي رواني دي؛ او له دې مصلحانه خوځښت څخه هم فتنه جوړوي (داسي هم وسوه) ( حبیبی، جنبش مشروطیت در افغانستان ۱۹۱ ؛ غبار ۸۱۳).

دې ته وایي خپلواک، روښانفکره، غښتلي، سرلوړي او باغروره افغانان . هغه کسان چي د هیواد د لوړو ملي گټو د ساتني او دفاع په لار کي تر عزت، مقام، حتا خپل سر هم تېر دي . عبدالرحمان لودین خو څوکاله وروسته په سرښندني سره عملاً هم ثابته کړه، چي د وطن او خلگو د خدمت په لار کي له سر بایللو څخه هیڅ بېره او ډار نه لري . د افغانانو د توري او قلم قهرمان - خوشال خان ختک ( ۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق) په « دستارنامه » کي ناحقه نه دي ویلي :

**چي دستار تړي هزار دي**

**د دستار سړي په شمار دي**

بگړۍ یا دستار تړل د هر کس او ناکس کار نه دئ . دا کار د هغو خپلواکو، هوډمنو ، مېړنو، پوهو او زړه سواندو کسانو کار دئ، چي خدای په شلو کمالو او نېکو خویو نازولي يي؛ او د وطن او ملي نوامیسو د ساتني په لار کي له هیڅ راز قرباني او سرښندني څخه بېره ونه لري .

د لویو جرگو دود له ځینو لنډ مهالو ځنډواو خنډو پرته، تر اوسه جاري دئ . ځینو واکمنانو په نېکه او ځینو نورو د تېرایستلو او غولولو دپاره له هغه څخه کار اخیستی دئ . له دې امله بې ځایه نه ده، چي د دې هیواد ټولي لویي جرگې د ماهیت او مضمون په لحاظ پر دوو ډلو و وېشوو:

۱- هغه جرگې، چي د افغان ملت د ریښتینو استازو په گډون جوړي سوي يي (وي)؛ او برخه والو استازو یي د ولسي باوراو ملي گټو د ساتني دروند مسوولیت، په پوره ایمانداری سره ادا کړی يي، یاني د جرگې د هغو پرېکړو سیله او ملاتړ یي کړی يي، چي په هره مانا له ملي او ولسي گټو سره سمون ولري . دې ډول لویو جرگو ته باید بېله هر ډول شک او شبهې د ملي جرگو نوم ورکړل سي؛ او پرېکړو ته يي د ملي وثیقي یا ملي تړون په توگه درناوی وسي؛ لکه د کوکران، مانجي، نارنج او شېر سرخ ملي جرگې، چي برخه والو کسانو یي تر ډېره ځایه د خپلو اړونده قبیلو او سیمو استازیتوب کاوه ؛ او خلگو هم د جرگو ولسي او ملي ماهیت ته په کتو سره د هغو پرېکړو او مصوبو ته په درنه سترگه کتل .

۲- هغه جرگې، چي د بېلابېلو حکومتو سیاسي، اجتماعي، فرهنگي او اقتصادي کړنلارو ته د تش په نامه « مشروعیت » ورکولو په مقصد جوړي سوي، جوړیږي او لا به جوړي سي . د دغه راز دولتي جرگو غړو تل د

افغان ولس پر ځای د واکمن رژیم د ګټو او مصلحتو استازیتوب کړئ اوکيي؛ نوځکه يي عام خلګ پرېکړو او مصوبو ته د ملي ارادې، ملي وثيقي يا ملي تړون په سترګه نه ګوري . داسي جرګو له بې ځایه پیسو لګولو او وخت ضایع کولو پرته، څه ګټه هم نه ده رسولې؛ او نه به په راتلونکو وختونکي څه ګټه ولري . له دې کبله دا ډول تبلیغاتي غونډو ته د لویو جرګو پر ځای د لویو دوکو یا لویو تېر ایستنو اصطلاح ډېر ه مناسبه بریښي. موږ او تاسود افغانستان په معاصر تاریخ، په تېره بیا تېرو دېرشو - څلوېښتو کالو کي د دغه راز درواغجنو او غولوونکو جرګو، خورا ډېر ډولونه او مثالونه لیدلي دي .

تېرو ټکو ته په پام سره اوس نو اساسي پوښتنه دا ده، چي د امریکایي پوځو د توپ او ټانک تر کرغېړن سیوري لاندي به د کرزي د مزدور حکومت له خوا را بلل سوې لویه جرګه، څه راز ماهیت ولري؟! راسئ دې پوښتني ته د هیواد قانوني اسنادو او موجودو واقعیتو په رڼا کي جوابونه ولټوو:

دامریکایانو د تېل سوي اساسي قانون د یوسلولسمي ( ۱۱۰) مادې د حکمونو له مخي، لویه جرګه د ملي شورا د غړو او د ولایتو او ولسوالییو د جرګو له رییسانو څخه جوړېږي . البته د کابیني وزیران، د سترې محکمي رییس او غړي هم کولای سي د لویي جرګي په غونډوکي بې له دې چي د رایي ورکولو حق ولري، ګډون وکړي .

د ملي شورا د انتخاباتو څرنګوالی، تشکیلاتي جوړښت، د غړو علمي سویه، سیاسي، مذهبي او فکري تمایلات او بهرني حامیان ټولو افغانانو ته په بشپړه توګه څرګند دي . پردې روښانه واقعیتو به هیڅ بحث نه کوو؛ راسئ دي مهمي خبري ته یوڅه ځیر سو، چي د ولسي جرګي لږ و ډېر سل غړي خو همدا اوس په تېرو انتخاباتو کي د ادعا سوي ټګی برګی او ډول ډول سرغړونو له اسیته د انتخاباتي جرمو د څېړني په اختصاصي محکمه کي لاینحل دوسیي لري . د دې خبري مانا دا ده، چي کېدای سي د پارلمان ډېری غړي د ادعا سوو جرمو د اثبات په صورت کي، محبسو ته ولېږل سي . سربېره پر دې، په دې حقیقتو هم موږ ټول خبر یو، چي زیاتره وکیلان حتا خپلو مؤکلینو ته د مخ ښکاره کولو جرأت هم نه لري . که کله له کوم دولتي یا بهرني هیأت سره خپلي سیمي ته د سفر کولو جرأت و مومي ښه ته ښه، که نه نوخپل ټول وخت له مؤکلینو لیري، په کابل کي تېروي .

د اساسي قانون د یوسلولسمي (۱۱۰) مادې د حکمونو سره سم د لویي جرګي د برخه والو دوهمه ډله د ولایتي جرګو( شوراوو) له رییسانو او غړو څخه جوړه ده . د دې ډلي غړي، لکه څنګه چي مالومېږي، د ملي شورا تر غړو هم زیات په پخوانیيو جنګي ډلو ټپلو او ایتلافي پوځو پوري تړلي دي؛ ځکه د ملي شورا په غړو کي د ځینو منورو او بې پرې کسانو له موجودیت څخه انکار نسي کېدای؛ خو په ولایتي جرګو کي د سیاسي او امنیتي حالاتو د خرپړتیا له امله د دغه راز کسانو شمېر ډېر لږ یا له هیڅ سره برابر دئ .

بالاخره د اساسي قانون د همدې یوسلولسمي ( ۱۱۰) مادې د حکمونو له مخي د لویي جرګي د ګډون کوونکو بله ډله د ولسوالییو د جرګو یا شوراوو رییسان دي . د ولسوالییو د جرګو رییسانو له خلګو سره د نیژدې او ټینګو اړېکو په وجه کولای سوای، په لویه جرګه کي رغنده اوارزښتناکه برخه واخلي؛ خو په خواشینی سره، چي په هیواد کي د زیاتېدوکو ناامنییو له کبله د ولسوالییو جرګي تر اوسه جوړي سوي لا نه دي .

کله چي په راتلونکي لویه جرګه کي د ولسوالییو د شوراوو د نسته والي له جهته د اټکل سوو استازو د نیمګړتیا په اړه له حامد کرزي څخه پوښتنه وسوه، هغه په تلوسي او وارخطایی سره و ویل : داخو هغه لویه جرګه نه ده، چي په اساسي قانون کي یي یادونه سوې ده؛ دایوه عنعنوي لویه جرګه ده ، چي یوازي د امریکانو د پوځي اډو په اړه نظر ورکيي . کرزی بېچاره له لسو کالو راهیسي حتا په دې خبره هم پوه نسو، چي په اساسي قانون کي تسجیل سوې لویه جرګه په حقیقت کي همداعنعنوي یا دودیزه لویه جرګه ده، چي تر اوږدو تاریخي پړاوو وروسته اوس د

يوې ارزښتناکي حقوقي مؤسسي په توګه په اساسي قانون کي تسجيل سوې ده . له دې اسيته نو د قانوني او عنعنه يي لويي جرګي تر منځ، هيڅ توپير نسته . که په اساسي قانون کي تسجيل سوې لويه جرګه د ولسواليو د جرګو د رييسانو له نسته والي له امله نسي جوړېدای، بيا نو عنعنه يي يا دوديزه لويه جرګه هم د جوړېدو شرايط نه پوره کيي .

ايا په داسي شرايطو او حالاتو کي، د ملي شورا غړي او د ولايتي شوراوو رييسان، په لويه جرګه کي د افغانستان دبي وسه او بي کسه خلګو استازيتوب کولای سي که يا؟!

ايا د کورنی او باندنی مافيا په پيسو، سياسي معاملو او لاسوهنو کښېنول سوي کسان د لويي جرګي پرېکړو ته «مشروعيت» ورکولای سي؟!

هو! کرزی او د هغه جرمي شريکان به په لويه جرګه کي د امريکايي چونييو پر شوم پلان د ټاپي لګولو دپاره، د هيواد د سياسي، اجتماعي، فرهنګي او علمي ټولنو د استازو په نامه ځيني کلېشه يي څېرې هم را وغواړي؛ خو د غوړه مالانو، بي غروره او خرڅ سوو کسانو د را غونډولو دا ډول تلاښونه به هم د جرګي« مشروعيت » ته هيڅ ګټه ونه رسوي .

کله چي د جرګي پرېکړي په ميليونو افغانانو او حتا ګاونډيبو هيوادوکي هيڅ راز منښت او مشروعيت و نه لري، بيا نو د هغي جرګي د جوړېدوګټه او فايده په څه کي ده؟ !

موږ او تاسو وليده، چي د ببرک او نجيب په واکمنيبو کي هم دغه راز تبليغاتي جرګي ډېري جوړي سوې؛ ور بلل سوو کسانو ته به څو ورځي پرتميني مېلمستياوي جوړي او ښه سوغاتونه ورکړل سوه؛ خو نتلو او ويرژلو افغانانو ته يي د يوې اولسکيزي ګټه نه رسېده؛ ځکه نه د جرګو برخه وال د خلګو رېښتيني استازي وه؛ او نه يي په جوړو سوو جرګو کي د خلګو پر اساسي غوښتنو او دردونو خبري کولای سوای . دکرزي د حکومت لويي جرګي هم د ببرک او نجيب تر غولوونکو جرګو هيڅ ښه والی او سموالی نسي لرلای .

خبره روښانه ده . د پردو د توپک او نيزې تر ظالمانه سيوري لاندي، هغه هم د يوه مزدور حکومت له خوا، هيڅکله د ملي او واقعي جرګي خبره نسي مطرح کېدای . د همدې استدلال له مخي به د کرزي د حکومت له خوا را غوښتل سوې لويه جرګه هغه څه کيي، چي امريکايي باداران يي غواړي . که څه هم په لويه جرګه کي به د ايران، پاکستان او روسيي مزدوران، نه د افغانستان د خپلواکی، ملي واکمنی او ملي وياړونو د ژغورني، بلکي د خپلو بهرنيبو بادارانو د ستراتيژيکو ګټو د تحقق په خاطر د امريکايي چونييو د تصويب په لار کي خندونو او خاشو ماتولو ته لمن و وهي، خو سره له هغه هم هيڅ ګومان نه کيږي د هغه پلان مخه ونيسي، چي کلونه کلونه مخکي د زرګونو پوځي تلفاتو او ميليارډو ډالرو په بيه د همدې مقصد دپاره په سي . آی . اې . او پينټاګان کي جوړ سوی دئ .

په پای کي بايد دا خبره له ياده و نباسو، چي د لويي جرګي له خوا د امريکايي چونييو تصويب به نه يوازي زموږ د هيواد د سترو ملي او وطني مسألو حل ته لار هواره نه کړي؛ بلکي تل تر تله به د جګړو، افغان وژنو، ورانيبو او بدمرغيبو اور ته لمن و وهي . په راتلونکي او وروستی برخه کي د امريکايي چونييو په وړاندي د خپلو ملي او وطني مسألو د حل پر اساسي او هر اړخيزو لارو رڼا غېږو.

پاته لري